مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر

۲۰۲۱/۰۳/۱۹

# ورک ارمان

زه پر اغزیو باندې اوسم او دا هیڅ نه وایي
مینه ارزانه ورته ښکاري، اشنا هیڅ نه وایي

زه چې یې سترګو نه دورک ارمان پوښتنه کوم
یایي په ټنډه ګونځې راشي او یا هیڅ نه وایي

چې راته ګراني نه دي، مینه پسې مرې دي زما
چې په ما ګرانه ده، هغه دلـــــربا هېڅ نه وایي

د ملـــــغلرو منځ کې ورشم، دیو تار په بڼه
تر سپیني غاړې یې چاپېر شم دالا هېڅ نه وایي

د زړه ازار لــــپاره راشي، لکـــــه ته ولاړه شي
له ګل نه شته خوشبویي یوسي، هوا هېڅ نه وایي

د خدای په میـــنه یې دسترګو تـــلاوت کومه
دا مې ګناه شوه، که ثواب شو، ملا هېڅ نـــه وایي

امان الله! ستاغوندې نه دی چې به غم خوري زموږ
بس ګوزاره کوي، ژوندی دی، پاچـــــا هیڅ نه وایي

هر سحـــر غوږ یم، بلبلان ذکــــــر دګلو کوي
حیران په دې یمه، چې ښکلې له تا هیـــــڅ نه وایي

۱۳۸۳ /۴ /۱۶

علم ګل سحر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ